مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالستار ایوبي

۲۰۲۱/۱۲/۰۴

# د بشري ټولني پارازيټونه

## لمړۍ برخه

**د افغانستان د صلحي د پروسي ډارپ سين:** ملګري وايي چي دا فلمونه ډير په خواري سره جوړيږي. ډير خلګ پکښي اخته وي. موږ چي تيار سوي فلمونه ګورو نو فقط هغه خلګ د فلم برخه راته ښکاري چي تمثيل کوي. عاميانه فکر لرونکي خلک د فلمونو پر واقعاتو خبري کوي. فلاني داسي وکړل. هغه فلانی داسي سو. ځيني چي بيا تر دوئ څه زيات پوه او د لوړ عمر نندارچيان وي هغه بيا لږ په لوړه سويه خبري پر کوي. فلاني ښه اکټ وکړ. د فلم هلک د دې رول وړتيا نه لرل. فلاني ته يې ډير خراب رول ورکړی وو او داسي نور. هغه خلګ چي بيا د فلمونو په صنعت کي کار کوي يا لا ژور داخلي معلومات لري، دوئ بيا وايي چي د فلم اصلي خلګ ډايريکټران، پروډيوسران، سپانسران او يو شمير متخصصين وي چي د فلم پر پرده نه ښکاره کيږي خو د فلم په جوړيدو کي يې اساسي ونډه لرلې وي. ځوک سکريپټونه ليکي، ځوک بيا د فلم د هلک په جامو کي يو لړ خطرناکه افعال سرته رسوي، فلاني تجارتي شرکت پانګونه پکښي وکړل، د فلانۍ کمپنۍ نوی ماډل موټر پکښي وچلول سو او داسي نور او نور. د يوه فلم د کاميابه کولو لپاره هم يو لړ خاصو مهارتونو ته اړتيا ده. يو قوي فلم هغه وي چي يو قوي پيلوزی ولري چي د هغه فلم د پيل منظره يا واقعه تشکيلوي. دا د فلم د پيل منظره ده چي نندارچي دې ته اړ ايستلای سي چي فلم تر پايه پوري تعقيب کړي او دا فلم څو څو ځله وګوري. او تر پيلوزي څخه وروسته دوهم مهم عنصر د هغه د پای منظره ده چي په انګليسي کي ډراپ سين ورته وايي. که چيري د يوه فلم ډراپ سين داسي وي چي د ننداركچي احساسات راويښ کړي او يا د خوشحالي احساس ورسره پريږدي نو بيا ننداركچي دې ته اماده کيږي چي د اړوندو تمثيل کونکو يا پروډيوسرانو نورو فلمونو کتلو ته هم زړه ښه کړي. کله چي د افغانستان د صلحي خبري پيل سوې، باوجود له دې چي د اکثريتو افغانانو او يو شميرامريکايانو خواهش داغه وو چي دا بدمرغه جګړه پای ته ورسيږي. البته خلګ ډير ورته خوشبين نه وه. ډيرو به ويل چي زړه ته مي نه لويږي چي پکۍ ورا دي راغله. هغه خلګو چي خپل د وجود اعضاء او نيژدې خپلوان په روانه جګړه کي بايللي وه يا يې ستر اقتصادي زيانونه ليدلي وه، هغوئ به داغه ويل چي زما تر سر سوه تيره خدای دي نه کړي دا نابوده دنيا ډيره. هغه خلګ چي د معتدل فکر خاوندان وه او د قطر د حکومت درنو مصارفو، د نړۍ د دولتونو سترو چاړواکو علايقو او هڅو ته کتل هغوئ دغومره خوشبيني لرل چي د صلحي پروسه که ډرامه هم وي نو حد اقل يا حتماً به يو جالبه ډراپ سين ولري. تنها که د خليلزاد سفرونو ته حساب وکړو نو دومره مصارف پر راغلي چي که هغه اندازه پيسې و يوه اوسط افغان ته ورسيږي نو اووه نسله يې د عيش و نوش ژوند پر تيرولای سي، پرته له دې چي کوم کار يا کسب وکړي. په ټوله نړۍ کي هيڅ يو زبر ځواک د افغانستان د صلحي مخالفه نه وو. هر يوه داغه ويل چي زه تر ټولو ډير د صلحي ملاتړی يم. په داخل کي هم يو ټوپکسالار، جنايتکار، د بهرني استخباراتي اداری جاسوس په خوله نه ويل چي زه د صلحي ضد يم. خو بيا هم عام افغانان څه پوهيدل او څه خبريدل چي د ښکيلو هيوادونو او د افغنستان د متحاربو ډلو ځيني جګپوړي چارواکي په صلحه کي خاشې ماتوي. کله چي ډونلډ ټرمپ د ملا عبدالغني برادر سره د صلحي تړون لاسليک کړ. دا خبره تثبيت سول چي لږ تر لږه د امريکايانو سره جګړه پای ته ورسيدل. دا شپږ مياشتي به هر څومره پښتانه قتل کړي، د هغه وروسته به که جګړه بشپړ ختمه نه سي نو کم از کم د برابري دا خو به سي. د دې پنجشيريانو، تاجکانو، ازبکانو او هزاره ګانو سره به زاړه حسابونه برابر کړو. دا خبره هم د عامو خلګو د توقع څخه بهر وه چي د امريکايانو د وتلو وروسته په ميدان کي پاته خلګ به د جګړې تمديد ته زړه ښه کوي، ځکه چي طالبانو پر نورو ټولو ډلو بشپړ برلاسی لاره. د عوامو تصور داغه وو چي روانه بدامني د جميعت، شورا نظار، جنبش او حزب وحدت د جنګسالارانو د اقتدار او ثروت نه تسکينيدونکي لوږي له سببه ده. کله چي هغوئ جګړه په خپل ضرر ووينې نو صلحي ته به زړه ښه کړي. د حالاتو عادي کيدل د هر چا په ګټه وه. چا چي چور کړی وو، هغه هم د قانون په حاکميت ځکه خوشحاله وو چي خپله چور کړې شتمني يې ساتلای سوای. ځوک کي د چور شوقيان نه وه، هغوئ په صلحه ځکه خوشحاله وه چي د خواريو او کوښښونو ښه اجوره به تير تاوانونه ورته جبران کړي. هغه چي په راتلونکي کي د چور د لاري خپله او د خپل آل و اولاد آينده ورسمول غواړي هغه به د جګړې د دوام لپاره ځکه ډيري هلي ځلي ونه کړي چي لټان دي. په دې خبره دير لږ خلګ پوهيدل چي د صلحي د پروسې د علني جرياناتو تر څنګ يو شمير موازي جريانات فعاله دي چي دا پروسه د


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

پردې د شا څخه داسې ځاري او اداره کوي يې چې عام ننداړچيان په خبر نه سي. هغه لږ خلک چې په دې جرياناتو خبر وه، هغوئ په دې فکر کې وه چې د جګړې ثمره ښتونکې شکرخواره به و دې ډرامې ته څنګه د پای ټکی ايږدي، چې خلک هم مطمئين سي او صلحه هم رانه سي او داسې يو معادل شی خلګو ته ورکړل سي چې د صلحې په عوض يې خلک قبول کړي. وايي چې چينايان د پلاسټک څخه شيدې او وريجې جوړوي چې په پخيدو او خوړو کې د اصلي وريجو او شيدو په څير دي. يواځينی توپير يې دا دی چې د وجود لپاره غذايي ارزښت نلري. چې ځوک يې وخوري په مرور د زمان سره به مړ سي. که څه هم داعش، ځانمرګي، هدفي وژني، فاسد چارواکي په رسمياتو کې د هيڅ چا نه وه خوښ خو په غير رسمي چوکاټ کې يې شايقين درلودله. که څه هم په ښکاره هيڅ ځوک په کندهار کې دا نه وايي چې زما شراب خوښ دي، لاکن دا اوولس و اتلس د شرابو مخفي کارخانې د چا لپاره وطني شراب جوړوي؟ يو بوتل د شرابو د کندهار څخه بل هيواد ته خو پرېږده، بل ولايت ته لا نه دی تللی. د ډيرو طالب پلوه افغانانو زړه درد کوي چې ۲۰ کاله مو قربانۍ هم ورکړې، شهيدان، زخميان اسيران، مهاجرتونه، بندونه مو وګالل. آخر چې اشرف غني مافيا وبهرنيان ولاړل اوس هم ځامرګي راباندي کيږي، چاودني کيږي او اوس هم پر خپلو چارواکو هيڅ قدرت نلرو. اوس هم زموږ پر مالياتو زموږ عامه خدماتي زيربناوي نه رغول کيږي. اوس هم بېکاري ده او د ناقصو سياسي پاليسيو له سببه مو تجاران او صنعتونه تاواني دي. پخوا وزارت دفاع او وزارت داخله د پسونو د غلو په لاس کې وه اوس د چرګانو غله پر واکمن سول. يعني د بارانه راولاړ سوو او د ناوې لاندي کښينستلو. دا چې ولي داسې وسول، په دې پوهيدلو لپاره لازمه ده چې د ټولي نړۍ د بشري ټولني په پارازټونو پوه سو. کله چې ماشوم د ښه خوراک باوجود ډنګر او خوارځواکی پاتيږي نو موږ وايو چې شايد چينجی ولري؟ نو لمړی د چنجيانو دوا ورکوو، وروسته بيا ښه خواړه ورشروع کوو. او د چينجي د نوعيت د معلومولو لپاره ماشوم ډاکټر ته بيايو. هغه د غايطه موادو معينات ورکوي. په لابراتوار کي د غايطه موادو ټيسټ کيږي، بيا نو معلوميږي چې ماشوم څه ډول چينجی لري چې ايا د کډوداني چينجی دی، اسکاريس دی او يا کوم بل شی. د تشخيص وروسته بيا ډاکټر دوا ورکوي. کله چې والدين ماشوم ته دوا ورکړي نو بيا ماشوم صحتيابه کيږي. دا چې ښه خډل خډل انقلابونه په افغانستان کي راغلل او بيا هم زموږ ټولنه د ودي او پرمختګ پر لاره نه سوه سمه. طبعي خبره ده چې زموږ ټولنه يو شمير پارازيټونه لري، چې تشخيص او تداوي ته يې اړتيا سته. او دا د صلحې پروسه زموږ د ټولنيز مرض تداوي نه وه بلکه لابراتوار ټيسټ وو چې زموږ د مرض علتونه يې روښانه کړل. زموږ مخلص سياسيون او مذهبيون زموږ د ټولنيزو امراضو معالجين دي چې د تشخيص وروسته يوه موثره نسخه راته وفرمايي او موږ ټوله په ګډه د خپلي مرضمني ټولني علاج وکړو.

**کورونا ويروس که حجروي پارازيټ:** د ۱۳۹۸ کال د دلوي وروستۍ ورځې وې او که د حوت لمړنۍ ورځې و شپې وې چې په خبري رسنيو کي د چين په ووهان ښار کي د انسانانو د مرموزو مړينو خبرونه د ځينو خبريالانو لخوا په غير قانوني ډول خپاره سول. بيا د ځينو هغو خبريالانو د مړيني مو هم واورېدل چې دا خبرونه يې خپاره کړي وه. بيا چين حکومت هم ومنل چې د کورونا د ډول يو ويروس د دې مړينو موجب دی. خلګو ډول ډول خبري کولې. چا ويل چې دا تش تبليغات دي. چا څه ويل او چا څه..... آخر چې د ثور مياشت رانوې کيدل، ويروس تر افغانستانه هم راورسيدی. هغو چې نه منی، په ديده سترګو يې وليدل چې عادي زکام به خلک راچپه کول او وژل به يې. هغه مشرانو چې د اوبا د مرض قصې راته کړي وې، کوم تصوراتي تصويرونه چې يې زموږ په اذهانو کي جوړ کړي وه، هغه ته ورته مناظر مو په ديده سترګو ليدل. آخر موږ هم سر سره وګروی چې ولا دا کرونا يا کوئيډ ـ۱۹ په نامه خو ربښتيا هم يو شی سته، ځکه چې هغه دی فلانی اکا يې وواژه، فلانی ځني پر بستر پريوتی حتی چې آفت شخصاً زموږ تر لوړ حضوره راورسيدی او د فرض روژې په غرمو کي يې غوړي غوړي د پسه ښورواوي راباندي نوشجان کړې. د ځانه سره مو وويل چې راسه خانه دا ويروس بايد وپيژنې. دا هم يو مهم شی دی، نو څه چې دومره وړوکی دی چې په سترګو نه ليدل کيږي. څه د ډاکټرانو څخه پوښتني کړي، څه د بيولوژي کتابونه پسي کتلي؛ دغومره خبر سوو چې دا يو ډير وړوکی موجود دی چې د ژونديتوب يوازينی سرټيفيکيټ يې پروټيني پوښ دی چې د رايبونيوکليک اسيډ (آر اين اې) يو واحد ځنځير لري. پر دې ځنځير يو پروټيني پوښ راتاو سوی وي او دا پوښ په خپله سطحه ميخ ته ورته زخي لري چې اصلاً د انزايمونو او آر اين اې د تزريق پچکارياني دي. په سترګو نه معلوميږي، په مايکروسکوپ هم نه معلوميږي؛ يوازي په ايليکټرون مايکروسکوپ باندي يې يو مبهم عکس کتلای سو. د ساينسپوهانو په نظر دا د ژوندي ماديت او غير ژوندي ماديت تر منځ يو برزخي جسم دی. ځيني خواص يې د غير ژوندي موجود دي لکه بلورين حالت غوره کول چې د ځينو عناصرو او مرکباتو خاصيت دی. دا چې تکثير کوي، پروټيني پوښ لري او د تکثير لپاره هلي ځلي کوي، دا يې د ژوندي موجود خاصيت دی. خپله غذا نه سي جوړولای نو ځکه د ژوندويو حجراتو څخه غذا غلا کوي. پر ژونديو حجراتو باندي بريد يې هم يوه جالبه طريقه لري. لکه بحري مينونه پر خپله سطحه زخي لري. چې کله د دغو زخو څخه يوه يې د يوې ژوندۍ حجرې سره په تماس کي راسي، د حجرې ديوال سوری کوي او خپل رايبو نيوکليک اسيډ خنځير و حجروي چاپيرېال ته (لکه ناقانونه کډوال) ورپيچکاري کوي. د پروټين پوښ د باندي پاته کيږي لکه مار چې پوست واچوي. په پرمختللو حجراتو کي رايبو نيوکليک اسيډ (آر اين اې) هغه ماده ده چې د ارثي اوصافو (پروټينونو) شفر لورنکي مادې يعني ډی اوکسي رايبونيوکليک اسيډ (يا ډي اين اې چې د يوې حجرې په هسته کي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

موجوده وي) څخه پروټين د جوړښت شفر ثبتوي او بيا د حجرې په چاپيرېال (سايټوپلازم) کي د ځينو عضويو (organelles) په مرسته د حجروي فعاليتونو لپاره اړين پروټينونه جوړوي. دا پروټينونه بيا د ژوندۍ حجرې د ژوند د فعاليتونو لپاره اړين خدمات اجراء کوي. په ساده حجراتو لکه بکټريا کي بيا داغه ار اين اې د ارثي انتقال مادې رول هم لوبوي چي خپله تکثير کوي د يوې څخه دوه کيږي او حجره هم ورسره يوځاى تجزيه کيږي. دا چي ويروس هم پروټيني پوښ لري او ارثي ماده يې آر اين اې ده نو ځکه ويروسونه اکثره د تکثير لپاره پر بکټرياوو باندي بريدونه کوي. پرمختللي حجرات د ويروس د نفوذ په مقابل کي شايد قوي دفاع ونه لري خو حجروي هستې او ډي اين اې ته د ويروسي آر اين اې نفوذ څه ګران کار دى. اوبل منسجم حجرات چي د يوه ژوندي موجود جسم تشکيلوي هغوئ د ويروس په مقابل کي ډير موثره دفاعي سيستمونه جوړوي. حتى ځيني حجرات خاص د دې لپاره وي چي مشکوک پروټينونه او ارثيت انتقالونکي ځنيځيرونه د وجود په چاپيرېال کي د بينه يوسي. د حجرې په داخل کي داسي عضويې (د حجرې په داخل کي د بدني عضوې دنده اجراء کونکي ساختارونه) سته چي د پروټين د ساختمان يوازي د يو مشخص ساختماني واحد سره وصل وي او د رايبو نيوکليک اسيډ د شفرونو د ځينځير پر يوې مشخصي حلقې باندي د نصب ځاى لري. کله چي دا عضويې د کوم رايبونيوکليک اسيډ د ځنځير سره مخ سي نو د خپلي مشخصي حلقې سره وصليږي او خپل اړوند پروټيني واحد ورسره وصلوي، همداسي د هري حلقې سره په اتوماتيک ډول سره عضويې راځي او اړوند د پروټين ساختماني واحد چي امينو اسيډ نوميږي ورسره وصلوي تر څو د پرټين بشپړ ماليکيول تکميل سي. د ويروس رايبو نيوکليک اسيډ چي کله بيکټريايي حجرې ته دا خل سي لمړى دا هڅه کوي چي د حجرې خپله واقعي آر اين اې د بينه يوسي څو د حجرې تغذيوي چاپيرېال باندي بشپړ حاکميت پيدا کړي. کله چي په دې کار ونه توانيږي نو بيا دا ويروسي آر اين اې تړانګه د بکټريايي حجرې د آر اين اې حلقې ته ځان داخلوي او د هغه د يوې برخي په توګه عادي فعاليت اجراء کوي (ساينسپوهانو دا خاصيت ډير پخوا کشف کړى وو او د ډيرو عضوي موادو د توليد لپاره د دې پديدې څخه ګټه پورته کوي. پخوا ځيني دواوي او اوس حتى د غوښي د کټلې د توليد بريالۍ تجربې تر سره سوي دي). دا ويروسي آر اين اې تل تر تله د حجرې لپاره داسي بېضرره نه پاتيږي. کله چي بکټريايي حجره تکثر کوي او نوي حجرات مابين ته راسي نو هلته په ځوانه حجره کي چي هر څه د ضعف او تجزيې په حالت کي وي، دا ويروسي تړانګه د حلقې څخه بيليږي. حجروي آر اين اې دبينه وړي او خپل ويروسي وجود د تاسيس لپاره حجروي مواد پر ځان راغونډوي (لکه د اشرف غني کابينې چي په خپلو اواخرو کي خودسرانه مقررئ پيل کړي وې). دا چي ويروسي ار اين اې په څه ډول د حجرې داخلي چاپيرېال ته نفوذ کوي يو تخصصي بحث دى. ځيني ساينسپوهان په دې عقيده دي چي ويروس په خپل پروټين پوښ کي داسي زخي لري چي د ژوندۍ حجرې د ځينو زخو سره د وصال قابليت لري چي دا وصال د قلف و کيلي د وصال په شان د حجرې په ديوال کي د بندو دروازو د خلاصولو خاصيت لري. کله چي د ويروس زخه د حجرې د زخي سره وصل سي نو دا دروازه خلاصيږي او د ويروس آر اين اې حجروي چاپيرېال ته داخليږي (خلص دا چي ويروس ورته وايي چي خپل يم دروازه راخلاصه کړه). او دا چي ويروسي آر اين اې ځنګه حجروي آر اين اې د بينه وړي، دا هم يو تخصصي بحث دى او په اړه يې تر ډيره حده تشي فرضيې موجودي دي. کله چي په يوه حجره کي ويروسي آر اين اې حاکمه سي او د ځوانو ويروسونو د توليد پديده پيل کړي، نهايي عواقب يې د حجرې لپاره مرګوني وي (داسي لکه د پاکستان د آى ايس آى ټوله رهبري کي چي د هند جاسوسان په لاس کي واخلي نو کله د کارګل غميزه، کله د لال مسجد غميزه، کله د بينظيري و بګټي د قتل غميزه او کله هم د وزيرستانيانو د قتل عام غميزي پيښيږي) . د نوو ويروسونو د توليد په پروسه کي يو ډول زهرجن مواد (ټوکسين) هم توليديږي چي د حجروې مايعاتو او د حجروي ديوال منحل کولاى سي. پايله يې د حجرې انفجار وي چي په چاپيرېال کي نوي ويروسونه د ټوکسين سره يوځاى ازاديږي. ټوکسين د چاپيرېال حجراتو ته تخريب رسوي او ځوان ويروسونه د خپل تکثر لپاره پر دې نورو حجراتو بريدونه کوي. او دا پديده تر هغه وخته ادامه پيدا کوي تر څو چي نور حجرات پاته نه سي يا د چاپيرېال شرايط د ويروسونو لپاره ناسازګاره سي او يا د وجود دفاعي عکس العملونه دا ويروسونه په چاپيرېال کي دبينه يوسي. ويروس په پرمختللو حجراتو کي هم تقريباً ورته خط سير لري.

ملګري به وايي چي دا څه د دولسم صنف د بيولوجي درس دي راته شورع کړى دى، خو حقيقت دا دى چي د بشري ټولني د مرموزو پديدو په څيړنه کي بيولوژي زموږ سره ډيره مرسته کوي. که د يوې ژوندۍ حجرې چاپيرېال د يوه هيواد سره مشابه کړو او د حجرې هسته د هيواد د پلازميني سره، ډي اين اې د يوه هيواد د مقننه قوې څخه تمثيل کړو، آر اين اې د هيواد د قضايه قوې سره مشابه وبولو او عضويې (organelles) د يوه هيواد د اجرائيه قوې سره تشابه ورکړو او حجروي چاپيرېال د هيواد د خصوصي سيکټور (ولس) سره ورته وبولو......... د ويروس لپاره به د ټولني کومه طبقه د مقايسې لپاره مناسبه راته ښکاره سي؟ له شکه پرته په دې چاپيرېال کي موجود ټول هغه عناصر چي د ځايي او نړيوالو انحصاري سازمانونو لپاره کار کوي کوم چي دا د غير رسمي او نامشروع د قومندې د ځنځيرونو د لاري اداره کيدونکي عناصر د ملتونو مقننه، قضايه او اجرائيه قواوي ته داخلوي، د ملتونو سرنوشت په خپل لاس کي اخلي او د ملتونو عوايد زبيښي. دوئ نه يوازي د ملتونو د عوايدو د زبېښاک د لاري د ټولنيزو طبقاتو تر منځ د ثروت د متوازني توزيع چينلونه تخريبوي (چي د غربت د


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

رامنځته کیدو باعث ګرزي)، بلکه د خپلو سازماني بې معنا اهدافو لپاره د یوې ټولني د وګړو شخصي او ټولنیز حقوق هم تر پښو لاندي کوي. لکه ویروس چي د حجرې پارازیټ (طفیلي) دی. همداسي د غټو ژوندي موجوداتو لپاره هم غټ پارازیټونه (طفیلیان) سته لکه د حیواناتو په حلقونو کي جوري، د کلمو چینجیان، امیبونه او داسي نور. دا چي د ویروس پرازیټي فعالیتونو ډیري پروسې د مایکروسکوپیک (وړکتوب) خاصیت په اساس د انسان تر مشاهدې لاندي نه سي نیول کیدلای، د پارازیټي فعالیت ډیر اوصاف په کثیرالحجروي پارازیټونو کي په ښه توګه مطالعه کیدای سي. ټول طفیلیان دا خاصیت لري چي د ژوندي موجود د یوې عضوي په ډول ځان تمثیلوي خو تل یې د وجود د اعضاوو څخه توپیر دا وي چي د ژوندي وجود اصلي اعضاء د هغه ژوندي وجود د ټولنیز ژوند برخه وي. هغوئ تل تر تله خپل عادي فعالیتونه په بشپړ صداقت ځکه اجراء کوي چي د هغوئ فردي ژوند د وجود د ټولنیز ژوند سره تړلی وي. کله چي دا وجود د بینه ځي نو اعضاء یې هم د مرګ سره مخامخ کیږي. او یو پارازیټ یا طفیلي د یوه نابللي متشبث میلمه حیثیت لري. د یوه داسي سپینسترګي میلمه په څیر چي د تش الو په شفتالو د یوې کورنۍ د غړیتوب یوه کاذبه قباله جوړوي، د هغه په مټ د کورنۍ د اعضاوو سره ګډ ژوند کوي. په کور کي موجود دورځنیو اړتیاوو توکو له غذا، کالي، خونو او تشنابونو څخه په اصراف استفاده کي د کورنۍ د اصلي وګړو سره رقابت کوي خو د مسئولیت منلو ظرفیت او د عوایدو په لوړوالي کي یې فعالیت صفر یا صفر ته نیژدې وي او کله کله د کورنۍ د مروجو اصولو په ماتولو سره داسي محصولات هم خارجوي چي د میزبان د وجود لپاره د ضرر او تکلیف سبب کیږي. طفیلي یا پارازیټ یوه عمده مشخصه دا ده چي دی د خپل ژوند د دوران فقط یوه برخه د خپل کوربه وجود په جسم کي تیروي. د تکثر وروسته د خپل ژوند د پاته برخي د تکمیل لپاره بهرني چاپیریال ته د وتلو هڅه کوي څو هر ځوان طفیلي یو بل ژوندي موجود پیدا کړي او د ژوند دوران ته ادامه ورکړي. یعني طفیلي د وجود د بینه تللو سره یوځای د بینه تلو ویره نلري او تل دا هیله ورسره وي چي دا ژوندی وجود د بینه ولاړ سي نو د پرمختګ نوي لاري به راته خلاصي سي (ښه مثال یې پر کابل د طالبانو د سلطې وروسته د جلالت مآب حامد کرزي پر هوایي ډګر راټول سوي هیواد وال بللای سو). په اکثره مواردو کي بهرني چاپیریال ته د طفیلي یا پارازیټ اخراج د کوربه موجود پر عمومي مرګ باندي منتج کیږي. ویل کیږي چي چرچرۍ د وچي ځمکي حشره ده او ځان د اوبو څخه لیري ساتي. کله چي اسکاریس چینجی د پارازیټ په شکل د هغه وجود ته داخل سي او د هغه په وجود کي تیریدونکی دروان یې پای ته ورسیږي نو داسي وخت راځي چي دا اسکاریس چینجی یو ډول عصبي کیمیاوي مواد د چرچرۍ وینې ته داخلوي چي د چرچرۍ د مرکزي اعصبي سیسټم د تمیز د مرکز د حجراتو لخوا جزبیږي او چرچرۍ ته دا فکر ورپیدا سي چي زه باید ولامبم (حال دا چي د چرچرۍ لامبو نه ده زده). اصلاً د هغه په وجود کي پټ اسکاریس چینجي ولامبلو ته هوا سوې وي. کله چي چرچرۍ اوبو ته ځان وروااچوي او غرقیږي (یعني ځانوژنه کوي). اسکاریس چینجی چي د هغه په کلمو کي ځای نیولی وي او په وچ چاپیریال کي ژوند نه سي کولای، د مقعد دلاري اوبو ته راوځي او بیا ټوټه ټوټه کیږي. هره ټوټه یې یو نوی اسکاریس چینجی دئ چي بیا و یوې نوي چرچرۍ ته اړتیا لري چي یو بالغ اسکاریس ځني جوړ سي. دا ټوټې بیا د اوبو د خوړ په څنډو کي شنو سوو نباتاتو بیخو ته ځان رسوي چي هلته چرچرۍ د خوراک لپاره راځي او په دې ډول د هغه و ګیډي ته ځان رسوي. په بشري ټولنه کي د دې پدیدې د ورته والي ښه مثال د ارغنداب جنګ وو. د ارغنداب د جګړې پروژه هم د طالبانو په زیان وه، هم د ارغنداب د هغه خلګو چي د طالبانو ملاتړي وه او هم د ټوله کندهار د نفوسونو. په دې جګړه کي ګټه یوازي د ارغنداب د جمیعتیانو (سقاویانو)، پخوانیو خلقیانو و پرچمیانو (امانیانو) لیدله. دا چي دې واکمنو ډلو د طالبانو د رهبري ځیني اشخاص د پیسو، بلیکمیل او راټلونکي د تضمین په پلمه خپل کړي وه، د هغوئ په مرسته یې د طالبانو تحریک ته دا الهام ورکړ چي دا جګړه ډیره اړینه ده. باید حتماً دا جګړه وسي. دا چي فقط د طالبانو په رهبري کي د کفارو ځینو پټو جاسوسانو ته پیسې او د امتیازاتو قولونه ورکړل سوي وه چي دا پروژه پر مخ بوځي یو حقیقت دی. خو موږ به دطالبانو رهبري په دې مرحله کي ځکه نه ملامتوو چي ډېر سخت مجبوره وه. د لته ملامتیا د جمهورو افغانانو او د هغوئ د مشرانو پر اوږو لویږي.دا چي افغان ولس د کابل د بې کفایته اداري څخه تر نهایي حده مایوسه سوي وه نو یې طالبانو ته هیلي زیاتي سوي وې. په ظاهره داسي ښکاریدل چي د افغانستان بهرني لوبغاړي په دې کار کي پاته راغلي چي د حکومتوالي په برخه کي د خپلو لاسپوڅو ظرفیتونه ورلوړ کړي او د ګټو لپاره د جګړې انډول ساتل ورته اړین وه نو فکر یې وکړ چي که دولت تللي اعتبار د اعادې په برخه کي څه نه سي کولای نو راسه طالبان یو څه ورته بدنامه کړه څو ټوله خلګ پر طالبانو ورمات نه سي نو ځکه داپروژه عملي سول چي دوهم پړاو یې د غزني پښتون میشتي ولسوالي قرهباغ ته واوښتی. د طالبانو د اسلامي تحریک او د افغانستان د مومن مسلمان ولس حقوق او روا ګټي د یو څو مردارخورو د نامشروع معاملې قرباني سوې. دا چي دې لوبي ادامه نه کړل پیدا او نابېره ټوله سول او پایله یې سپین بیرغان سول، په نزد د عقل ناممکنه کار وو، فقط د خدای ج فضل ورته ویلای سو. نن چي موږ په نړۍ کي د ولسونو او حکومتونو تر منځ تصادمونه وینو، د خپلو ولسونو سره د واکمنانو جفاوي وینو، په بشري ټولنو کي پراخ فسادونه وینو نو مجبوره کیږو چي د بشري ټولنو په پارازیټونو یا طفیلیانو په موجودیت باندي اقرار وکړو. په نړۍ کي د ډیره وخته راهیسي د نړیوالو سازمانونو د نفوذ پراختیا د بشري ټولنو د ټولنیزو حقوق د استحصال سره مخامخ کړي دي. تاسي تصور ورکړئ چي یو لایق برقي دي ځان مړ کړي او د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

برښنا د رياست په برج برق کي دي ځان ته (د شناخت، واسطي او رشوت د کارولو پرته) کار پيدا کړي. د يوې تقاعدي لپاره مورثه درې کاله عريضه و عريضه بازي کوي ځو د کاله يو ديرش و پنځه ديرش زره افغانۍ ورته حواله سي، په داسي هيواد کي يو داسي شخص ولسمشري ته رسيږي چي په لوی لاس هيواد د کورني جګړې پر ټغر کښينوي او بيا خپلو ځواکونو ته وايي چي فقط شيږ مياشتي مقاومت وکړئ. شيږ مياشتي بعد به موږ په طالبانو پسي کلی په کلی تصفيوي عمليات کوو (يعني نور يې هم ظلم و وژنو ته تشويقوي) او حقيقت دا وي چي دا خر ناځوانه ملي بوديجي ته حساب کړی وي چي شپږو مياشتو ته اړتيا لرم چي د ملي بوديجي وروستی نيمکه د جنګي مصارفو په پلمه خپل جوب ته واچوم او بيا به ځني زم. ښکاره خبره ده چي د افغانستان ټولنيز چاپيريال د مافيامنګولو ته لويدلی دی او دا سړی د بهرني عناصرو ځخه دی. داسي شخص چي د خپل ملت په زوال کي خپل زوال ويني هغه داسي فکر نه سي لرلای او نه هم داسي تصاميم او پلانونه جوړولای سي. دا د افغانانو لپاره يو درس دی چي په راتلونکي کي د خپلو مشرانو انتخاب خپله وکړي او داسي کسان انتخاب کړي چي د احمدشاه بابا ^رح^ په شان خپله پښتونخوا دومره ښکلي ورته ايسي چي د غرونو سرونه يې د ډيلي تخت ځني هيروي. په هر هيواد کي هر هغه شخص چي د هيواد ځخه بهر د ملاتړ د تغذيي پيپ ورته راروان وي د پارازيټ په سترګه ورته کتلای سو.

په سيمئزه کچه په هغه فرقو، ګوندونو او مافياوو پوري تړلي خلګ د ټولني د پارازيټ ونده لوبوي چي په غلا يا په چم ټولني ته په دې پلمه داخليږي ځو د هغه ټولني برخه وګرزي. کله چي هغه ټولنه دوئ ته خپل غړيتوب ورکړي بيا نو د خپلو ټولنيزو مسئوليتونو ځخه پټه ناخيري پيلوي او داسي ځانګړي ايجنداوي پر مخ وړي چي هغه د ټولني د مجموعي حقوقو او ګټو سره متضاد واقع کيږي. په اسلامي ټولنو کي يې ښه مثالونه موږ دا شيعګان، اهل حديث، شرکي عقايد لرونکي صوفي فرقي او داسي نوري ناري فرقي يادولای سو. په نړيواله کچه د داسي ټولنو مثالونه د روم کاتهوليک کليساء (چي د ديني عقايدو د انحصار د لاري په هيوادونو کي خپل نفوذ خپروي) اويهودي مخفي سازمانونه (چي د دولتي او خصوصي عايداتي سرچينو ځخه د غلا د چينلونو د انحصار د لاري ټولني د خپل اغيز لاندي راولي).

د يهودي سازمانونو لنډه سابقه داسي ده چي کله د رومي تمدن د پيل په لمړنيو وختونو کي روم امپراتور بيت المقدس ونيوی او د امپراتوري د پراخو ځمکو د اداره کولو لپاره يې حاکمانو ته داسي احکام جاري کړل چي د امپراتوري ديني عقايد او اصول د ځايي ديني عقايدو او اصولو سره هم آهنګ کړئ، اصلاً يې هدف دا وو چي په ځايي ملتونو کي داسي فرقي رامنځته کړئ چي په خپلو ديني او فرهنګي اصولو کي د رومي عقايد او فرهنګ ته د امکان تر حده ځای ورکړي او بيا د دې فرقو په مټ پر دې سيمو واک وچلوي. د روم د فرهنګ تر ټولو تاريک اړخ دا دی چي دوئ د ديني عقايدو د لاري د انسانانو د اداره کولو مهارتونو ته وده ورکول چي د هغه سياست اساس جوړوي چي د فرقو په رامنځته کولو سره ټولنه په خپل منځ کي تجزيه کړه او وروسته هغه ټولنه خپل کښت او کرونده وګرزوه. دا د ذکريا ^عليه سلام^ او يحيی ^عليه سلام^ زمانه وه. چي د بيت المقدس اکثريتو متوليانو د وخت د روم د امپراتور سره هوکړه وکړل چي د تورات او زبور په احکامو کي د امپراتور په ګټه لاسوهنه وکړي. کله چي دې دوو جليل القدره اولولازمه انبياوو يې د بشر لپاره د الهي شريعت د بدلون مخالفت وکړ، د يهودو پلورل سوي مذهبي رهبري هغوئ دواړه د رومي واکمنانو په مرسته په شهادت ورسول او د روم د واکمنانو د پاليسي په عملي کولو سره په واک کي ورسره شريک سول. په وروسته وختونو کي همدا د يهودو مذهبي سازمانونو د روم امپراتوري ته ستر جنجالونه او دسيسي جوړولي چي حتی کله کله به يې استقلال هم اعلان کړ. بالاخره روميانو دوئ د بيت المقدس ځخه وشړل ځو د دوئ مذهبي انحصار او مرکزيت دبينه يوسي. جلا وطن سوو يهودي کورنيو د خپل اثرورسوخ د دوام لپاره د ثروت د ويش نظام د ځبښاک لپاره پر موثره طرحو کار پيل کړ او د ځايي حکومتونو لپاره د عوايدو د زياتولو لپاره د ولسي وګړو د لوټلو د لاري يې خپل د لاسه وتلي نفوذ د اعادې هڅي پيل کړې. دوئ دې حقيقت ته رسيدلي وه چي د ماليانو پر ځای د نفساني او شهواني خواهشاتو د تسکين لوازمو د پلورلو په مرسته په ډير موثريت سره ولسونه لوټلای سوو په داسي حال کي چي دوئ راځخه خوشحاله هم وي. حکومتونو خو داغه غوښتل چي هم دا خلګ پر سر سر ووهو او هم مو پيني رامچ کړي. همدا علت دی چي تر ننه پوري د فحشاء، مسکراتو، دخانياتو او مخدراتو کاروبارونه دوئ انحصار کړي دي. په عين وخت کي يې د خپل مذهبي انحصار د دوام د لاري دا هڅه کول چي عام يهود پر خپلو مشرانو باندي راغونډ وساتي. داسي فکر هم موجود دی چي د رومي امپراتوري په وروستيو کلونو کي د عيسويت د انحصار لپاره بازنتين چي کليسا رامنځته کړل يو عمده هدف يې د يهودو مذهبي انحصار د بينه وړل هم کيدای سي. د رومي کاتهوليک کليسا لنډه تاريخچه داسي ده چي کله چي رومي امپراتور بازنتين د غربي روم پر امپراتور (چي د ده اخښی هم وو) بری تر لاسه کړ. ده دافکر وکړ چي غربي روم د اداره کولو لپاره د بل امپراتور يا نايب پر ځای د داسي کسانو يو سازمان رامنځته کړي چي مشر او کشران يې هيڅ اجرائيه واک ونه لري. فقط په عامو خلګو کي رسوخ ولري او پر واکمنانو باندي ځارنه درسره کړي (د امير شاه زمان د واکه ګوښه کولو وروسته امير محمد يعقوب خان او وزير فتح خان اسحاقزو ته داسي يو منصب ورکړ چي پر اسانو به سپاره وه، واکمنانو ته به يې د سيمو جاسوسي کول او حکومت به دوئ خلګو ته ستانه معرفي کړي وه چي هر کور به دوئ ته يوه کاسه اوړه ورکوي). دا سازمان به خپله دولتي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

اجرائیه چارو کې دخیل نه وي او تنها د ده مامورینو ته په ولس کې مشروعیت او نامشروعیت ورکوي. نو راولاړ سو د خپل وخت معروف دین یعني عیسویت د انحصار یو سازمان یې جوړ کړ چې د رومن کاتولیک کلیسا په نوم یې تبارز وکړ. ده غوښتل چې د دې سازمان د لارې د روم امپراتورې غربي سیمي (چې تر ډیر حده یې خلګو رومي کلتور خپل کړی وو او نسبتاً تابع او ارامه وه) اداره کړې څو خپله امپراتور په شرق کې د روم د امپراتورې د لا پراختیا چارو ته فارغه سي. وایي چې د انسان سترګې د لیرې واټن شیان مبهمویني او د عقل سترګې یې د زماني واټن د زیاتیدو سره خپل د دید قوه دلاسه ورکوي. آخر داسې وخت راغلی چې خلګ د امپراتور د مامورینو څخه دومره نه وه په غاو لکه د کلیسا د ملایانو څخه چې په تکلیف وه. آخر داسې وخت هم راوسیدی چې همدې کلیسا د روم د امپراتور مشروعیت په فسخه کولو سره په اروپا کې ملوک الطوایفي رامنځته کړل او په شرق کې د روم امپراتور د خپلواکو سیمو د ولسونو او د کلیسا لخوا په نیابتې ډول اداره کیدونکو ملوک الطوایفو تر منځ محصور پاته سو. د بشري ټولنو تر منځ معاملاتو کې دې سازمان د ځان په کټه مداخلات پیل کړل چې په ځمکه او بحر کې پراخ فسادونه رامنځته سول. ملیونونو انسانانو خپل ژوندونه دلاسه ورکړل، ښارونه کنډواله سول، تمدنونه ونړیدل چې بالاخره د اسلام د مبین دین د ظهور سره د کلیسا فساد تر ډیره حده مهار سو. کله چې الله تعالی ج پر خپل وروستي پیغمبر ص باندې خپل شریعت تکمیل کړ او د قرآن عظیم الشان سره یې بشریت ته مبعوث کړ نو د کلیساء تر څنګ یې د یهودي سازمانونو فساد ته هم محکم بندونه وتړل. الله تعالی ج بشریت ته داسې شریعت راولیږه چې هغه خلګ د خپلو شهواتو او خواهشاتو د تعقیب څخه راګرزول، د اصراف څخه یې منع کول او یو له بله سره مرسته کولو او صله رحمي ته یې تشویقول. دا چې کلیساء او یهودي سازمانونو د بشریت د استحصال او لوټلو لپاره د هغوئ شهواتو او خواهشاتو د تسکین لومړي درولي، نو یې اسلام خپل مشترک دښمن وپیژندی. دوئ په ګډه د اسلام د مبین دین د بیخ کښلو لپاره ګډې هڅې پیل کړې. د پیغمبر ص د زماني قیصر او نجاشي په شمول ټولو هغه واکمنانو چې د ولسونو په وړاندې یې د مسئولیت لړ یا ډیر احساس لاره، د اخیرزمان نبي ص قدرداني وکړل. د یمن والي بازان د کسرا د غلامي طوق مات کړ او د مدیني منورې څخه خپریدونکې نور په وړاندې یې د خپل تیاره خوني دربچې خلاصي کړلې او د حضرت محمد ص په امتیانو کې یې ځان داخل کړ. خو خپله د عربو او قریشو هغه سردارانو چې د خپلو قبایلو مشرۍ یې خپل میراثي حق باله د پیغمبر ص، د هغه د خلافاء راشدینو او د مسلمه امت پر ضد خپلو دسیسو ته ادامه ورکړل. د خدای ج پیغمبر ص په جګ سره ژوندی وو، دوئ به پر خپل سر کله د مدیني منورې پر څنډه امام باړه (مسجد ضرار) ورته جوړه کړل او کله به یې د پیغمبرۍ دعوې کولې. کله به یې د ذکات څخه انکار کاوه او کله به بشپړ شریعت څخه مرتد کیدل.

کلیساء او یهودي سازمانونه چې د اسلام پر ضد متفق وه، په خپل منځ کې یې شدید رقابتونه هم پالل. یو د بل پر ضد به یې پر دولتونو باندې د خپل اثرو رسوخ څخه ګټه پورته کول. دا چې کلیسا مخکې له مخې لا د یهودو سره د پیغمبرانو په شهادت رسولو او د عیسی علیه سلام د ربړولو مقدمات پیل کړي وه، د یهودو مذهبي حیثیت ډیر لړزیدلی وو. بیا چې د وروستی نبي پیغمبر اکرم ص مبعوث سو او یهودو د خپل شامته مخالفت ورسره ځرګند کړ نو نور هم د مذهبي حیثیت له پلوه ذلیله سول. خو دوئ وختي لا د حکومت لخوا د ولسونو د شکولو په نوو لارو چارو کې د مهارت حاصلولو په اساس په درباورنو کې د ملاتړ د جلب نوي لارې چارې موندلي وې او کلیسا لکه د بانک نوټ د چاپ زوړ ماشین د خپل دوامداره ګټندویتوب له شامته د جدیدیت د لارې څخه ډیر لیرې شاته پاته سول. ځکه نو کله چې جګړو مذهبي انګیزې لرلې د کلیساء اثرورسوخ زیات وو. البته چې کله جګړو او حکومتوالي اقتصادي اړخ غوره کړ نو بیا د یهودي مافیاوو ونډه پر زیاته سول. د دې خبرې قوي احتمال سته چې شاید یهودي سازمانونو کلیسا خپله سیاله بللي وي او د دهریت د عقیدې رامخته کولو کې یې یو هدف دا هم وي چې کلیسا په بشپړه توګه د پښو وغورزوي، ځکه خو لاسپوځې یې په کاناډا او امریکا کې د څو سوه کاله پخوا ښخ سوو ماشومانو سره زړه د بیخه همدردي کوي او د کلیسا څخه د سلهاوو کلونو پخوا سوي ظلمونو حسابونه غواړي او دا چې د حال په سترګو په عراق، سوریه، فلسطین او مصر کې په ملیونونو انسانانو روان قتل عام کومه د ترحم انګیزه نه پر ښندي. هغه چې پښتو کې متل دی چې د کاسې لاندې نیم کاسه ده هغه داغه ده. یهودي سازمانونه د دیني عقایدو د ونډې د افادیت په مطلق ډول دبینه وړلو لپاره د دیني عقایدو د معادل په توګه د ماشین او د ځار د اسبابو پر پیاوړتیا پانګونه کوي.

کله چې صلیبي جګړې پای ته ورسیدلې او د اروپایي واکمنانو لخوا خصوصي متشبثین تشویقیدل چې هند او چین ته نوي بحري لارې پیدا کړي نو د دې تشبثاتو په مټ د امریکا، کاناډا او استرالیا نوي ځمکې کشف سوې. افریقا او هند ته د رسیدو نوي لارې اروپایانو وموندلې. د اروپایي هیوادونو واکمنان چې په خپل منځ کې د اقتدار د پراختیا په رقابتونو بوخت وه، نه یې غوښتل چې د شرقي روم د امپراتور اشتباه تکرار کړي. هغوئ د بازنتین پالیسي سرچپه کړل او د پخوا څخه دواک لاندې سیمي یې په خپله ولکه کې وساتلي او د نوو کشف سوو سیمو د اشغال او اداره کولو چارې یې سازمانونو ته وسپارلې. په دې برخه کې د شرقي هند شرکت ( East India Company) نوم ډیر مشهوره دی. پخواني مذهبي سازمانونو ونډه په دې نوي تشبث کې دا وه چې د نوو نیول سوو سیمو د اداره کولو لپاره استخدام سوو انسانانو کې روحاني نظم او د دې مشارکت د اهدافو مشروعیت پکښې ژوندی وساتي. تر دې وخته پورې د انحصارګرو هیوادونو په داخل کې د واتیکان کلیسا ډیرې سیمیزې نمایندګی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ځان ته مستقلي سوي وې او واتيکان مجبور وو چي د خپل نفوذ شبکه په نوو نيول سوو کالونيو کي رامنځته کړي. د اروپايي واکمنانو دا نوی مشارکت د کالونياليزم په نوم ونومول سو. اروپايي کالونيستانو د خلګو د اداره کولو په برخه کي د کليساوو کار اخيستی، او اصلي خدمات يعني د پيسو د اداره کولو چاري يهودي سازمانونو ورته انجامولي. د روم کاتوليک کليسا چي په اروپا کي د ملوک الطوايفي کوم تجارب لاسته راوړي وه، د اسلام د ظهور په ډيرو لمړيو وختونو کي يې د اسلام پر ضد په کار واچول. د استعماري سياست دا اصل د «وويشه او واک پر وچلوه» (divide and rule) د اصل په نوم شهرت لري. د امير معاويه رض لخوا د قريشي سردارانو په مرسته پر اسلامي خلافت باندي کودتاه او په عوض يې مطلق العنانه کورنی واکمنی رامنځته کولو اسلامي امت د کليسا د وويشه او واک پر وچلوه سياست ته بشپړ مواجه کړل. د امير معاويه پر کورنی باندي د ده پر ګام باندي ګام اينښودونکو قريشي سردارانو شپږ او اوه خلافته رامنځته کړل. بيا يې د خپل مشروعيت د اثبات لپاره په اسلامي عقايدو او تعليماتو کي مداخلي د لاري نوي مذهبي فرقي رامنځته کړلي چي يو عمده مثال يې د مصر فاطمي شيعګان بللای سو. د اسلام د ظهور په لمړنيو وختونو کي که څه هم د کليسا ځواک او برم په خپل اوج کي وو، پر مسلمانانو باندي يې دسيسې ډيري ګټوري نه سوې ثابتي. د اسلام د پيل په زمانو کي چي کومي ضربې اسلامي ټولني وليدلي، اصلاً د پخواني شرک د پاته سوو محراقونو څخه وې. يهودي سازمانونو د ټولنو د تضعيف لپاره د هغوئ د ويشلو تر څنګ نورو مغلقو تکتيکونو څخه هم کار اخيستی. د فاني ژوندون خوندونو او شهوتونو ته د انسانانو لوړه د دې سازمانونو په لومو کي پريوتلو يو عمده سبب دی. او د دهريت عقيده دې لوړي ته نور هم شدت ورکوي. يعني د دهريت عقيده وايي چي ژوند د ژوندي لپاره يو ښه او نادره تصادف دی، يو چانس دی چي د دوام مده يې نامعلومه ده. ځکه نو د ژوند هره لحظه بايد تر نهايي ممکنه حده په عيش و نوش کي تيره سي. د اسلام سپيڅلي او مبين دين خپلو پيروانو ته د ساده ژوند او قناعت درس ورکوي، د مرګ وروسته د دايمي ژوند زيری ورکوي چي د اخروي ژوند سهولتونه د دې فاني ژوند په ښيګنو پوري اړه لري. اسلام خپل پيروان تشويقوي چي هستمن د خپلي هستي يوه برخه نيستمن ته ورکړي او هغه د ځان سيال وبولي. دا برابري يا مساوات د ټولني د وګړو تر منځ معنوي اړيکي پياوړي کوي او ټولنه د بهرنيو دښمنانو پر ضد پياوړې ساتي. اسلام ثروتمند ته دا هيله ورکوي چي په دې فاني ژوندون کي د خپل ثروت هرڅومره برخه چي د بېوزلو د اړتياوو د پوره کولو په لاره کي مصرفوي، دا اصلاً د خپل اخروي تل پاته ژوند د اسايش په لاره کي پانګونه ده. د دې کار دنيوي پايله دا کيږي چي د ټولني د مختلفو طبقاتو تر منځ اړيکي پياوړي پاته کيږي او ټولنه په مجموع کي پياوړې کيږي. نړيوال يهودي سازمانونه د دې حقيقت څخه آګاه دي ځکه نو د دهريت عقيدي د پراختيا او اسلامي عقايدو د تحريف په لاره کي پراخ مصارف په کار اچوي. په دې برخه کي دوئ زياته پانګونه د اسلامي ټولني پر علماء باندي کوي. همداعلت دی چي نن په اسلامي هيوادونو کي د اسلامي شريعت د نفاذ په لاره کي عمده خنډ هغه علماء دي چي هر يو يې و يوې مشخصي فرقي ته ځان منصوبوي. دا د مختلفو فرقو علماء چي پر يوه خبره اتفاق لري هغه دا ده چي زورور چي هر څه کوي هغه مشروع دی او ثروتمند چي هر څه وايي هغه (بلا تشبيه) د قران آيتونه دي. د غريب او مظلوم د چغارو په جواب کي يې شعار داغه دی چي صبر کوه. خدای پاک ج صبر کونکي خوښوي. دا فرقي او د دوئ علماء بيا په دوامداره توګه د بهرنيو ناليدلو منابعو لخوا تغذيه کيږي. هر عالم غواړي چي د بل عالم سره اختلاف ښولو سره ځان تر هغه پوه ثابت کړي او خپل پيروان زيات کړي. د يوه عالم چي هر څومره پيروان زيات وي دغومره د خپل ځای او وخت د فاسدو چارواکو د مهربانيو او توجه وړ ګرزي. دا چي کليسا په ديني او عقيدوي فلسفه کي د اسلام څخه ماته خوړلې وه نو د غرب واکمنانو زياته توجه يهودي سازمانونو ته وکړل چي هغوئ د انسانان د اعتياد د لاري اطاعت ته مجبورول. يهودي سازمانونو د طبعي علومو په برخه کي پانګونه وکړل په دې برخه کي يې ابتکارات تشويق کړل. په ورته وخت کي يې د خپلي اغيزي لاندي د اسلامي نړۍ واکمنان او فرقوي عالمان پر دې وګومارل چي په اسلامي ټولنو کي د قرآن د تفهيم، عمومي سيواد (چي په لمړۍ الهي وحي کي بشريت پر مامور سوی دی: اقراء يعني لوست وکړه) او طبعي علومو د ترويج مخه ونيسي. په ورته وخت کي يې په غير اسلامي ټولنو کي د طبعي علومو د زده کړو مرکزونه پرانيستل. دوئ غير اسلامي ټولني ځکه د خپل مرکزيت لپاره انتخاب کړې چي هلته د اسلامي اخلاقو د نيستي له برکته د بشريت د خپلواکي اصل مطلق دبينه تللی وو. هلته انسانان په بشپړ ډول د خپلو مادي اړتياوو، شهواتو او لذتونو اسيران وه. د داسي کسانو اداره کول د څارويو د اداره کولو په شان اسانه وي. د طبعي علومو پوهانو د تجارتي چارو په سنبهالښت او نوو کشفياتو د لاري د حکومتوالي سياستونو ته بدلون ورکړ. يهودي سازمانونو چي د وخته وخته څخه يې اقتصادي چاري انحصار کړي وې، په دې وتوانيدل چي د طبعي علومو پوهانو پوهي په پيسو رانيسي او د خپل صنعتي و تجارتي انحصار لپاره يې وکاروي. په دې ډول د کالونياليزم په دوره کي دا سازمانونه په اثرورسوخ کي تر کليسا مخ ته سول. په لمړۍ او دوهمه نړيواله جګړه کي عصري وسلو او اقتصادي افزارو خپله برلاسي بشريت ته وښودل. د دوهمي نړيوالي جګړې وروسته پر نړۍ باندي د دې سازمانونو قدرت ټولي سيالۍ د بينه يوړې. د پرتګال، برطانيي، فرانسي، جرمني، روسيي او ترکيي امپراتوريو د دې دوو جګړو په ترڅ کي خپل اثرو رسوخ د لاسه ورکړ او په نړۍ کي سياسي رهبري يو تشريفاتي بڼه غوره کړل. يعني د لاسپوڅو حکومتونو نظام. د بيلګي په توګه جرمني چي د حربي ماشينري په ټيکنالوژي کي کمال ته ورسيدی خو ونه توانيدی چي د دې ټيکنالوژي په


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

مټ دوهمه نړیواله جګړه وګټي. ټوله جنګي ټیکنالوژي یې روسانو ځني غلا کړل. امریکا د دوهمي نړیوالي جګړې په ترڅ کي نړیوال ځواک په صفت رابرسیره سو خو حاکمانو یې پر خپله اداره دومره حاکمیت نه لاره چي خپله اټومي ټیکنالوجي د غلا مخنیوی وکړي او اټومي ټیکنالوجي د امریکا او برطانیې تر څنګ روس او چین ته انتقال سول. اوس هغه دی اووه معلوم او څخه چي څومره نامعلوم آټومي وسلې لرونکي دولتونه موجود دي. د دوهمي نړیوالي جګړې وروسته د ملت، هیواد، د دولت حاکمیت ټوله سیمبولیکي اسطلاحوي وګرزیدلې. کله چي روس په بشپړ بریالیتوب سره د جرمني، برطانیې او امریکا مهم رازونه او تیکنالوژي غلا کړي، دا دولتونه خپل ولس ته په جواب ویلو کي پاته راځي چي ولي په خپلو صفوفو کي د جواسیسو د دخول مخه نه سي نیولای. خو داغه روسیه چي په افغانستان کي همدې دولتونو ته خپل نیکر هم په قمار کي بایلوی، تر ننه پوري یې خپل ولس ته سپیناوی نه دی کړی چي د افغانستان جګړه د کوم ملي هدف لپاره وه او ولي په ملي خزانه کي پروت وروستی روبل پر ولګول سو؟. دا نن د روسیې ملي ځواکونه په سوریه کي لکه سپي د بشار الاسد چوکیداري کوي، خو سیاسیون یې نه دي توانیدلي چي په سوریه کي د بشارالاسد په تن کي د روس ملي حقوق او ملي ګټي خپلو خلګو ته تشریح کړي. یو وخت وو چي هیڅ ملت، قوم او قبیلې د بل ملت، قوم او قبیلې جاسوس ژوندی نه پریښودی. حتی د صلحي په شرایطو کي به هم چي جاسوس ونیول سو، په عوض د دې چي خپل ملک ته سپارل سوی وای، وژل کیدی. اکثره وخت به د جاسوسانو پر سر د دولتونو تر منځ جګړې ونښتلې. یوه هیواد به د بل هیواد  ډیپلوماټ ته هرڅومره عزت او قدر ورکاوه خو کله چي به د پټو معلوماتو د حصول په لټه کي وموندل سو، په یوه لغته به یې د هیواد څخه بهر وشاړه. لاکن نن ورځ موږ وینو چي د دولتونو ډیپلوماټان یو بل ته پوچ و رد وایي او جاسوسان یې بیا یو له بله سره د شرابو په یوه بوتل جامونه ډکوي او پټي معاملې سیټوي. د نړۍ تقریباً ټولو هیوادونو چاري د سیاسي رهبري پر ځای د نظامي رهبري یا استخباراتو لخوا تنظیمیږي. د افغانستان په تیره پنځوس کلنه جګړه کي د سي ای اې، کې جي بي، آی ایس آی، ایم آی ۶، د ایران استخبارات او خپله د افغانستان استخباراتي اداري ښکیلي وې. د کمونیستي انقلاب وروسته که د افغانستان په دولتي ارګانونو کي په ظاهره تصمیم نیونکې اداره که وه، داغه د خاد اداره وه، نور خو ټوله وزارتونه او اداري مطلق فلج وې او وزیران یې محض لاسپوڅي وه. بیا د نجیب د سقوط وروسته د دې هیواد چاري بهرنیو استخباراتي ادارو پر مخ بیولې. کرنل امام د افغانستان په ټولو ولایتونو او ولسوالیو کي یو مشهور شخصیت وو. د دې نقطې په رابرسیره کولو کي هدف دا نه دی چي وښیو چي د امریکا، پاکستان، ایران او روس استخباراتو په افغانستان کي مداخلې کړې دي. د ډیرو غمیزو او ناخوالو سبب سوي دي. دا ډیر بد هیوادونه یا دولتونه دي. دلته هدف دا دی چي ملګري متوجه کړو چي د دې مداخلاتو څومره ګټه دې هیوادونو ته رسیدلې ده. د پاکستان رښاندي هم بغاري وهي چي کلاشنکوف کلچر، مخدرات او جنایتونه د افغانستان څخه راغله. امریکا هم وایي چي په افغانستان کي روزل سوو ټروریستانو زموږ په هیواد کي خرابۍ پیښي کړې. د افغانستان د تاریاکو څخه تولید سوي مخدراتو زموږ په ملیونونو ځوانان په ژوندوني تر مرګ بدتره کړل. ایران هم د افغانستان څخه په غاو دی چي هیروین او تاریاک راوړي. کله چي د هند د استخباراتو رول په افغانستان کي ډیریږي، د افغانستان څخه هند ته د مخدراتو قاچاق هم ډیریږي او د هند د فاحشو غوغا لوړیږي چي د کابل د هزاره او تاجکو فاحشو یې د فحشاء بازار ور خراب کړی دی. ایا دا ټوله حقایق دې خبري ته اشاره نه کوي چي د نړۍ د ټولو هیوادونو استخبارات نور د خپلو ملي حقوقو اوګټو لپاره نه بلکه د هغه پر ضد فعالیتونه کوي؟ بله د تشویش وړ خبره دا ده چي کله د دوئ استخبارات د خپلو ملي اهدافو د کربښي څخه اوړي، باید د دې هیوادونو سیاسي رهبري یې واکونه او منابع ور محدودي  کړي خو عملاً د دې برعکس د دې ادارو امکاناتو او اجرائیه واکونو کړۍ نوره هم پراخیږي. د ظاهر شاه او داود خان په وختونو کي خاد یوازي یو معلوماتي ارګان وو، مسلح ځواکونه او اجرائیه واکونه یې نه لرل. کله چي د دې هیواد سیاسي رهبري د بینه ولاړل نو خاد ټول سیاسي واکونه په لاس کي واخیستل او پر ټولو ادارو حاکم سو. ولي؟ او څنګه؟ (د دې دوو سوالونو په جواب کي باید د سیاست او ټولنیز ژوند او حکومتوالي ټوله فلسفه بیان سي). په مجموع کي د دې ټولو پدیدو لنډ جواب دا جوړیږي چي د دوو نړیوالو جګړو په ترڅ کي نړیوالو یهودي سازمانونو ته د نړۍ د اقتصادي سرچینو د هغه شبکو بشپړ واک په لاس ورغلی چي د ټولي نړۍ هیوادونه او دولتونه خپلي مالي اړتیاوي ځني پوره کوي. او اوس دوئ غواړي چي د دې فرصت څخه اعظمي ګټه پورته کړي.  هغه اعظمي ګټه چي خپله دوئ ته هم نه ده واضح. دا لکه د لس لکو افغانیو پوروړي ته درې لکه ډالر په لاټرۍ کي راوخیژي. او دی چي نابېره ځان ثروت مند احساس کړي نو فوراً دا خواهش ورته پیدا سي چي زه باید دا ډالر په داسي ډول په کار واچوم چي د ټولي نړۍ ډالر آخر زما سي.  دا چي د نړۍ نوی نظم (New world order) ورته ویل کیږي بل څه نه دی غیر له همدې یهودي سازمانونو د خواهش څخه چي غواړي ټوله نړۍ د وسلوالو ځواکونو، استخباراتي ادارو او معلوماتي ټیکنالوژي او شیطاني سیاستونو په مټ د مستقیم څار لاندي ونیسي او بیا خپل دې اقتدار ته د یوې نوي امپراتوري بڼه ورکړي چي پلازمینه یې بیت المقدس وي. دوئ پر بشري ټولنه باندي د خپلي ولکې ټینګولو لپاره د وس تر بریده هڅه کوي چي د کسب معاش لپاره موجودي طبعي زیرمی لکه د ځښاک اوبه، ځنګلونه، طبعي خواړه لکه ځنګلي د ښکار حیوانات او نباتات په مطلق ډول دبینه یوسي او یوازي هغه بوټي او حیوانات ژوندي پریږدي چي د دوئ تر اداري لاندي ژوبڼونو او نیشنل پارکونو کي ساتل سوي دي. د افریقا د وحشي ژوند د قتل عام قصې د دوئ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ساینسپوهان په ښکاره مجلسونو کي په ډېره بې حیایي سره کوي او د ریسرچ په نوم هغه ته جواز ورکوي. اوس خپلواک ساینسپوهان خو سته نه چي د دوئ ساینسي کفر مطلق و عوامو ته څرګند کړي. دا چي د شیدو او غوښي تولید ته لا صنعتي بڼه ورکولو هڅي رواني دي، چي د بشریت د سرنوشت د انحصار د هڅو وروستی حد دی؛ لا هم بشریت د مرګي په خوب ویده دی. د دوئ د اقتدار په لاره کي یوازینی خنډ د انسانانو تر منځ موجود هغه معنوي ارزښتونه دي چي د مادي اړتیاوو او ګټو پورته قرار لري. هغه ارزښتونه چي د انسانانو تر منځ یو د بل په وړاندي حقوق او مسئولیتونه تعینوي او انسانان د عاطفي له مخي یو د بل ملاتړ ته هڅوي، دا خودخواه عناصر په شخصي چوکاټ کي د هغه څخه څه سوء استفاده کولای سي خو انسانان نه سي ځني بې برخي کولای. تر څو چي دا ارزښتونه د بشریت په ټولیز ژوند حاکم وي دا مافیاوي پر نړۍ خپل مطلق اقتدار نه سي قایمولای. د بیلګي په توګه که په یوه ټولنه کي د اسلام د مبین دین اصول حاکم وي. د هغه ټولني ثروتمند د خپلو عوایدو یوه برخه د همهغه ټولني تر ټولو بیوزله شخص ته ورکوي. کله چي په یوه ټولنه کي تر ټولو بېوزله شخص ته مرسته د ترټولو ثروتمند شخص د کوره څخه رسیږي نو دا مافیاوي به څنګه وتوانیږي چي د طبقاتي توپیر په پلمه بېوزله طبقه د ثروتمندي طبقې پر ضد راوپاروي. یا دا چي یوه ټولنه مسلمانه وي د هغه واکمن ځان ته د خپلي واکمني لاندي تر ټولو بیوزله کورنۍ د سوېې ژوند غوره کوي. د کلي ملک، د ولسوالي ولسوال، د ولایت والي او د هیواد سربراه درې وخته یا دوه وخته هغه خواړه خپله خوري چي د ده د سیمي تر ټولو بې وزله شخص یې خوري. کله چي خبر سي چي د سیمي تر ټولو بې وزله د خوراک هیڅ شی هم نلري نو خپل خواړه د هغه کور ته وراستوي. موږ ته د دې کندهار ښار د ماضي داسي قصې راپاته دي چي وایي د ظاهر شاه په وختو کي چي غربت ډیر زیات وو او د کوڅې یوه خان به ښوروا باندي کړې وه او خبر به سو چي په فلاني کور کي دیګ نه دی باندي سوی. هغه پخ سوې کټو به یې هغه کور ته ورواستوله، خپله به یې کوم بل څه پاخه کړله. په داسي ټولنه کي به دا مافیاوي څنګه وتوانیږي چي د خپلو لاسپوڅو علماوو او روحانیونو په فتواوو ملک، ولسوال، والي او واکمن کافر، مرتد، مباح الدم معرفي کړي او پر وړاندي یې ولسي بغاوت تنظیم کړي. بلي خوا ته چي د کفري ټولني مثال راواخلو لکه د نن ورځي عربي ټولنه چي سعودي عربستان او یمن څنګ په څنګ سره پراته دي. دواړه هیوادونه یو قوم او یو ملت یعني عرب دي. د سعودي خلګ په طلاء او ثروت کي غرې وهي او د یمن خلګ په فقر کي غرق دي. د سعودي عربستان او یو شمیر نورو ثروتمندو عربو هیوادونو د ثروتمندي اندازه د دې څخه لګولای سو چي افغانانو درې لسیزي په ملیونونو انسانانو قربانۍ ورکړې او د شوروي اقتصاد یې د اوږدمهاله جګړې په درشل کي په صفر کي ضرب کړ. روس بیرته په ډیر لږ وخت کي د دې عربانو د عیشپرستي او شهوتراني په مصارفو تر پخوا زیات پیاوړی اقتصاد جوړ کړ او هغه دی په سوریه کي د خپل ائتلافي ایران د ګټو ساتنه بیرته د همدې عرابانو پر ضد کوي. را به سو بیرته یمن او سعودي ته. باوجود د دې چي د یمن خلګ د سعودي او نورو ثروتمندو عربو خپلوان او هم دین شریکه ورونه وه، خو ثروتمندو عربو په عوض د دې چي د یمن بېوزلو ته خپل زکاتونه ورلیږلای، د هغوئ د غربت څخه په سوء استفاده به یې د هغوئ لوڼې او خویندي د یوې شپې لپاره په نکاح کولې. بیا چي به ځني ولاړه دا به یې لا نه ویل چي هغه شپه مي ورسره تیره کړل، ماشوم به یې سوی وي او که نه. د خدای ورځي او شپې تیریدلې، په یمن کي د عرب شیخانو د یوې شپې د نکاح په پایله کي ځیږیدلي شاهزاده ګان دومره ډیر سول چي اوس د روس، ایران او چین په ملاتړ یې د سعودي، اماراتو او نورو ثروتمندو عربي هیوادونو پر ضد د حوثي یاغیانو جبهه رامنځته کړې ده. د سعودي عربستان ښارونه او هوایي ډګرونه یې د بریدونو څخه په امان نه دي. هغه سالم عقل چي انسان عبرت او پښیماني ته هڅوي، په پیسو نه حاصلیږي، بلکه په تواضع او خاکساري لاسته راځي. دې اصیلو قریشي و هاشمي عربانو ته چي کښیني، اوس هم دا نه مني چي د دوئ اسلاف کافران وه. دوئ وایي چي هغوئ جاهلان وه. خپل د بعثت څخه وړاندي دوره دوئ د جاهلیت دوره بولي. دا نه وایي چي د کفر دوره وه. اوس نو څوک دومره جرائت لري چي ورته ووایي چي دا ۱۴۰۰ کاله وروسته دوره خو د جاهلیت نه سئ بللای. د الله تعالی ج وروستی کلام په عربي نازل سوی دی او تاسي ایمان هم پر راوړ اوس یې ورځ او شپه آیتونه لولئ. اوس مو ولي اعمال هغه د جاهلیت د دورې تر اسلافو بدتر دي؟ ولي مو اسلامي خلافت په ملوکیت واړاوه، قلمرو مو په شپږو او اوو ټوټو په خپل منځ کي وویشل او امتیان مو خپل مریان وګرزول؟ ولي د الله تعالی ج درکړل سوی مال د خوار، غریب او مظلوم د مرستي پر ځای د عیاشي پر لوازمو مصرفوئ. د قرآن او دین حفاظت خو اوس عجم کوي. ایا په مصر کي د اخوان المسلمین د حکومت په نسکورولو کي د مصر د دهریانو د ملاتړ حکم په قرآن کي موجود وو چي تاسو وکړ؟ په یمن کي د شیعګانو پر ضد راپورته سوي مسلمانانو ته مو د القاعده تور واچاوه. د جهاد په نامه مو افغانستان ته بوتلل او هلته مو هغه څه ورسره وکړل چي یو څو سوه کاله مخکي مو د حضرت امام حسین رض او ورسره ملګرو اهل بیت سره کړي وه. بیا مو عراق او سوریه کي د روافضو پر ضد راوپورته سوي مسلمانان د داعش په استخباراتي لومکه کي راګیر کړل. ټوکر ټوکر مو کړل. ولي؟ د څه لپاره؟ د کافرانو سره د اخروي ګټي حساب نه کوو، تاسي هغه دنیاوي ګټه راته جوته کړئ چي تاسو د دې کاره لاسته راوړې وي. نن ژړي سترګي ناست یاست دا یو څو ایراني شیعګانو په خپلو عربو باندي محاصره کړي یاست او د یزدګرد د ذلتونو په انتقام کي د حضرت ابوبکر صدیق رض او حضرت عمر فاروق رض د قبرونو د شنلو خبري کوي. محمد بن سلمان چي د احمد مرسي د ملاتړ څخه غفلت نه وای کړی، د مصر منافقینو هیڅ کله په



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

دومره سپینسترګي په شهادت نه سوای رسولای. موږ ویل چي دا یهود او د دوئ لاسپوڅي دهریان به محمد بن سلمان ته د دې تجاهل عارفانه په مقابل کي ځومره ستر انعام ورکړي. انعام یې داغه وو چي د خشوګي په وینو یې دا سپینه عبا ورککړه کړل او اوس لګیا دي چي د بوش لخوا پیل سوی د تروریزم ضد کروسیډ (صلیبي جګړه) تر سعودي عربستانه ور وغزوي.

نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ